# د آقا صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَسَلَّم

# د مدینے سره محبت

**14 May 2026**



(For Islamic Brothers)

هفته وراره د سُنّتو ډکه اجتماع کښې کيدونکے

د سُنّتو ډک بيان

پۀ 14 مئي، کال 2026ء (بمطابق: 26 ذو القعده شريف، کال 1447ھ) د پاکستان پۀ هفته وارو اِجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

قرآني بيان

پۀ نوم

# د آقا ﷺ د مدينے سره محبت

پۀ دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- قرآنِ کريم او د مدينے مُنَوَّرې شان
- مدينه مُنَوَّره ښکلے ښار دے
- د مدينے مُنَوَّرې د خاورو پۀ برکت د شِفا ميلاؤيدو دوه حکايتونه
- د عاشقِ رسول د مدينے مُنَوَّرې سفر (حکايت)

پیشکش

اَلْمَدِيْنَةُ الْعِلْمِيَة

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

FOR FEEDBACK
(+92) 315 2692 786

GET MORE SPEECHES
(+92) 310 8882 033

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ وَ الصَّلٰوةُ وَ السَّلَامُ عَلٰی خَاتَمِ النَّبِیّٖن

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیْطٰنِ الرَّجِیْم بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْم

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا رَسُوْلَ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا حَبِیْبَ الله

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَیْكَ یَا نَبِیَّ الله وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ یَا نُوْرَ الله

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

حضرت شيخ احمد بن ثابت مَغربي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: يوه ورځ ما يو ديوال ته ډډه وهلې وه او د قِبلې طرف ته مې مخ وو او د درودِ پاک په موضوع مې مضمون ترتيب کولو، نا څاپه په ما باندې پرکالي راغله او سترګې مې ورغلې- ما په خوب کښې د **الله** پاک مقربې فرښتے ◈ حضرت جبرائيل ◈ حضرت ميکائيل ◈ حضرت اسرافيل ◈ او حضرت عزرائيل عليهمُ السّلام وليدلې- (د درې مقربو فرښتو سره د خبرو اترو د ذِکر نه پس شيخ احمد بن ثابت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي:) ما حضرت عزرائيل عَلَيْهِ السَّلَام ته عرض اوکړو: زه د **الله** پاک او د هغهٔ د خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وسيله درکووم او خواست درته کووم چې تاسو زما نه د ساه اخستو په وخت زما سره نرمي اوکړئ- (هغوئي ووئيل چې) په رسولِ اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم باندې ډېر ډېر درودِ پاک لوله- [1]

آس ہے کوئی نہ پاس ایک تمہاری ہے آس | بس ہے یہی آسرا تم پہ کروڑوں درود [2]

---

[1] ... سعادة الدارين، الباب الرابع، اللطيفة السادسة، صفحه:124، 125 ملتقطًا و ملخصاً-

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:267-

**وضاحت:** يا رسولَ الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ! ستاسو نه علاوه ما پۀ چا پورې هم اُميد نۀ دے تړلے، نۀ څوک داسې شته چې پۀ هغۀ پورې اُميد وتړلے شي، زما خو بس هم تاسو اسره او ملاتړ يئ، پۀ تاسو باندې دې پۀ کروړونو درودونه وي۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

پۀ **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّيَّات د اعمالو دار و مدار پۀ نيتونو دے۔ [1]

**اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو!** پۀ ښو ښو نيتونو د عمل ثواب زياتيږي۔ راځئ چې د بيان اوريدو نه مخکښې څۀ ښۀ ښۀ نِيَّتونه اوکړو: مَثَلاً ◈ د **الله** پاک د رضا د پاره به توجه بيان اورم ◈ پۀ اَدب به کښينم ◈ ښۀ پۀ توجُّه به بيان اورم ◈ څۀ چې واورم، د هغې به د يادولو، پخپله پرې د عمل کولو او نورو ته د رَسولو کوشش کووم۔

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِيۡب! صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** نن به مونږ د مدينے مُنَوَّرې خبرې کوو۔ سُبۡحٰنَ الله! څومره ښکلے نوم دے: مَدِيۡنَه---!

| | |
|---|---|
| مَدِيۡنَه مَدينه ہمارا مدينه | ہميں جان و دِل سے ہے پيارا مدينه |
| سُہانا سُہانا دِل آراء مدينه | دِيوانوں کی آنکھوں کا تارا مدينه |

---

[1] ... بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحه:65، حديث:1۔

| | |
|---|---|
| يه رنگيں فضائيں، يه مهکی هوائيں | مُعَطَّر مُعَنبَر ہے سارا مدينه |
| مدينے کے جلووں کے قربان جاؤں | خُدا نے ہے کيسا سَنْوارا مدينه (1) |

يوه اِيمان تازه کوونکے خبره عرض کړم: پۀ عربیِ کښې **ښار** ته **مَدِينَه** وئيلے شي- د آبادو دا تقسيم دے ◈ بانډې ◈ کلي ◈ ښارونه- چرته چې ډير کورونه وي، جديد سهوليات وي، سکولونه، اسپتالونه، لوئي لوئي تعليمي اداري وغيره وي، هغې ته ښار وئيلے شي نو چې کوم ښار هم وي هغې ته پۀ عربیِ کښې **مَدِينَه** وئيلے شي- د حضرت صالح عَلَيْهِ السَّلَام د اوښې ښپې چې کومو بد قِسمتو پريکړې د هغوئي واقعه چې بيانې نو **الله** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ كَانَ فِي الْمَدِيْنَةِ تِسْعَةُ رَهْطٍ يُّفْسِدُوْنَ فِي الْاَرْضِ وَ لَا يُصْلِحُوْنَ ﴿۴۸﴾ | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او پۀ ښار کښې نهه کسان وو چې هغوئي به پۀ زمکه کښې فساد کولو او اِصلاح به يې نۀ کوله- |
| (پاره:19، سورۀ نمل:48) | |

يعنې کومو بد نصيبو چې د اوښې ښپې پريکړې هغوئي د ثمود د قوم د **حِجر** ښار اوسيدونکي وو-

دلته دې ښار ته **مَدِينَه** ووئيلے شوه- معلومه شوه چې د لفظ **مَدِينَه** لفظي معنیٰ ښار دے- اوس لږ غور اوکړئ چې ښارونه خو پۀ دُنيا کښې ډير دي، ډير عاليشان ښارونه هم دي، ډير لوئي لوئي، د ښکلو نه ښکلي ښارونه هم موجود دي خو د يو نوم هم **مَدِينَه** نۀ دے،

---

1...وسائلِ بخشش، صفحه:355ملتقطاً-

مَدِینَه صرف یوه ده- اخر څهٔ وجه ده؟ باقي ښارونه خو دي خو د هغوئي نومونه مَدِینَه (یعنې ښار) ولې نهٔ دي؟ علمائے کرامو د دې دوه وجهې لیکلي دي، فرمائي: د مَدِینَه یوه معنیٰ تابعداري کول هم دي، ځکه لوئي ښار چرته چې سلطان اوسیږي، هغې ته مَدِینَه وئیلے شي هلته د سلطان تابعداري کیږي- لهذا چې د دواړو جهانو سلطان، شهنشاهِ کون او مکان صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ مدینه مُنَوَّره کښې تشریف فرما دے، که څوک هر څومره لوئي ولې نهٔ وي، بادشاه وي او که غلام ټول دلته تابعداري کوي- ځکه دې ته مدینه وئیلے شي-

میرے آقا کا وہ دَر ہے جس پر
ماتھے گھس جاتے ہیں سرداروں کے

دویمه وجه علمائے کرامو دا لیکلې ده چې ښار پهٔ ابادیٔ سره وي، پهٔ حقیقت کښې صرف او صرف مدینه منوّره اباده ده، د باقي ښارونو ابادي د مدینے مُنَوَّرې او د آقائے مدینه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم صدقه ده ◈ هم دا ڼغه مبارک ښار دے کوم چې د ټولو ښارونو سردار دے ◈ د دې ځائے هواګانې، د ټولو هواګانو نه پاکې دي ◈ د دې ځائے د نُور شعاګانې ټول ښارونه روښانه کوي- ځکه دې ته مدینه (یعنې ښار) وئیلے کیږي-[1]

پہاڑوں میں بھی حُسن، کانٹے بھی دلکش
بہاروں نے کیسا نکھارا مدینہ
ہے شاہ و گدا، مُفلِس و اَغنِیا کا
بِلا رَیب سب کا گزارا مدینہ
اُسے سیرِ گلشن سے کیا ہو سروکار
کیا جس نے تیرا نظارہ مدینہ

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

1...سبل الهدیٰ ، جماع ابواب بعض فضائل...الخ، الباب الثانی...الخ، جلد:3، صفحه:293292 بتغير قليل۔

## پهٔ مدینه مُنَوَّره باندې د رحمت راوریدل

مولانا رُوم رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه کوم چې ډېر لوئي صُوفي بزرګ دے، هغوئي ډیره ښکلې واقعه لیکلې ده، فرمائي: یو ځل پهٔ مدینه مُنَوَّره کښې یو صحابي رَضِیَاللهُعَنۡهُ وفات شو، د رسولانو تاجدار، مکي مَدَني سرکار صَلَّىاللهُعَلَيۡهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم یې جنازه اوکړه، پهٔ بقیعِ پاک کښې یې هغوئي دفن کړو، بیا یې واپس کور ته تشریف راوړلو۔

یو خوا دا هم ښومره د خوش قِسمتۍ خبره ده، نن چې څوک مړه شي نو ◈ د چا جنازه د محلې امام صاحب کوي ◈ د چا جنازه د ښار لوئي عالِم صاحب کوي ◈ ځینې ډیر پهٔ فخر سره وائي چې زما د ورور جنازه فلانکي بن فلانکي علامه صاحب، فلانکي مفتي صاحب کړې وه، دومره خلقو پهٔ جنازه کښې شرکت کړے وو۔ بلکې د دې نه هم وړاندې خبره عرض کوم: که څوک پهٔ مدینه مُنَوَّره کښې وفات شي نو د هغهٔ د وفات کیدو پهٔ خبر اوریدو پهٔ عامه توګه خلق اِنَّالِلّٰه نهٔ لولي، بے اِختیاره یې د خُلې نه سُبۡحٰنَالله ووځي چې واه---!! ښومره ښه قِسمت یې دے۔

تاسو د صحابیِ رسول رَضِیَاللهُعَنۡهُ قِسمت ته وګورئ---!! هغوئي خو پهٔ مدینه مُنَوَّره کښې وفات شو، ورسره ورسره یې دا نصیب شول چې د هغوئي جنازه د رسولانو سردار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّىاللهُعَلَيۡهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم پخپله کوي۔

کیوں نہ ہو رُتبہ بڑا اصحاب واہل بیت کا | ہے خدائے مصطفٰی، اصحاب واہلِ بیت کا

## آل و اصحاب نبی سب بادشہ ہیں بادشاہ میں فقط ادنیٰ گدا اصحاب و اہل بیت کا[1]

خیر! مخکښې واقعه واورئ! نبیِ رحمت، شفیعِ اُمت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د تدفین نه د فارغیدو نه بعد واپس کور ته تشریف راوړلو، د مسلمانانو خوږه مور جانه سیده عائِشه صِدِّیقه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا په کور کښې وه، هغوئي زر څۀ کپړه راواخستله، په سر یـې کړه او د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هرکلي د پاره دالان ته راغله۔

خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم خو به مخکښې هم کور ته تشریف راوړلو، نن یـې هم تشریف راوړلو خو نن عجیبه معامله وشوه، سیده عائِشه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا چې کله نبي کریم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ولیدو نو ور وړاندې شوه، په مخ باندې یـې د حیرانتیا نخښې وې، کله د رسول الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم عمامې مبارکې له لاس وروړي، کله مقدسو زلفانو له لاس وروړي، بیا یـې قمیص مبارک ونیولو، په مقدسو لاسونو کښې یـې لاسونه ورکړل۔

رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: عائِشې! څۀ وشول؟ څۀ ګورې؟ عرض یـې اوکړو: یا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! بهر خو باران راوریږي خو ستاسو جامې، عمامه، ویښتۀ مبارک هر څۀ وچ دي، په تاسو باندې یو څاڅکے اوبۀ هم نۀ دي راپریوتې؟ وه یـې فرمائیل: عائشې! تاسو په سر باندې څۀ اچولي دي؟ عرض یـې اوکړو: دا ستاسو څادر مبارک دے، په تادئ کښې دا لاس ته راغلو، ما دا په سر کړو۔ وه یـې فرمائیل: دا کوز کړه! سیده عائِشه رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا چې څادر د سر نه کوز کړو نو وه یـې کتل چې هلته هیڅ

---

[1]...وسائلِ فردوس، صفحہ:35۔

باران نۀ وو، بيا ډيره حيرانه شوه، سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: اے عائشې! دا د الله پاک د رحمت باران دے، کوم چې دلته هر وخت راوريږي- تا چې زما څادر واچولو نو ستا سترګې روښانه شوې او تا دا باران په سترګو وليدو- [1]

| | |
|---|---|
| ذرّے ذرّے پہ چھایا ہوا نُور ہے | میرے میٹھے مدینے کی کیا بات ہے |
| نُور سے سب فَضا اِس کی معمُور ہے | میرے میٹھے مدینے کی کیا بات ہے |
| ہر طرف رحمتوں کی ہے چھائی گھٹا | مَہکی مَہکی ہے کیا خُوب مَدنی فَضا |
| ذرّے ذرّے پہ قرباں یہاں طُور ہے | میرے میٹھے مدینے کی کیا بات ہے [2] |

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! دا د مدينے مُنَوَّرې ښار دے، ښارونه خو په دُنيا کښې ډير دي، د يو نه بل ښکلے هم دے خو داسې حُسن کوم چې په مدينه مُنَوَّره کښې دے، چرته هم نۀ ميلاوېږي، تاسو ته به د دُنيا په ښارونو کښې لوئي لوئي پارکونه هم ميلاؤ شي، لوئي لوئي ابشارونه به هم ميلاؤ شي، قدرتي نظارې به يوه د بلې نه ښائسته په نظر راشي، لوړ لوړ غرونه، ډنډونه به هم ميلاؤ شي خو مدينه مُنَوَّره هغه ښار دے چرته چې هر وخت د امن او سکون، راحت او ارام او د رحمت او د رضوان بارانونه را وريږي-

## قرآنِ کريم او د مدينے مُنَوَّرې شان

د مدينے مُنَوَّرې په شان او عظمت باندې يو څو آيتونه مبارک واورئ!

---

[1] … مثنوی معنوی، قصه سؤال کردن عایشه…الخ، صفحه:72 خلاصةً-

2…وسائلِ بخشش، صفحه:466 ملتقطاً-

## (1): مدينه مُنَوَّره دارُ الاِيمان دے

پۀ قرآنِ مجيد کښې اِرشاد دے:

| | |
|---|---|
| وَالَّذِيْنَ تَبَوَّؤُ الدَّارَ وَالْاِيْمَانَ مِنْ قَبْلِهِمْ (پاره:28، سورۂ حشر:9) | [مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او هغه خلق چې د دوئي (مهاجرينو) نه مخکښې يې دا ښار او اِيمان خپل ځائے جوړ کړلو- |

د دې آيت لاندې علامه بيضاوي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: پۀ دې آيت کښې **الله** پاک مدينے مُنَوَّرې ته اِيمان (يا دارُ الاِيمان) فرمائيلے دے، د دې وجه دا ده چې اِيمان د مدينے مُنَوَّرې نه خور شوے دے او واپس به هم دې طرف ته راګرځي- [1] پۀ حديثِ پاک کښې دي:

اَلْمَدِيْنَةُ دَارُ الْاِيْمَان مدينه د اِيمان کور دے-[2]

ايمان ملا ان کے صدقے، قرآن ملا ان کے صدقے
رحمٰن ملا ان کے صدقے، وہ کیا ہے جو ہم نے پایا نہیں

## (2): مدينه مُنَوَّره د وُسعت (پراختيا) والا زمکه ده

دغه شان په 5 سيپاره، د سورۀ نِسآء، پۀ آيت: 97 کښې د فرښتو پۀ ژبه اِرشاد شوے:

---

1... حاشيه شيخ زاده تفسير بيضاوى، پاره:28، الحشر، تحت الآية:9، جلد:8، صفحه:167-

2...معجم اوسط، جلد:4، صفحه:174، حديث:5618-

اَلَمْ تَكُنْ اَرْضُ اللّٰهِ وَاسِعَةً فَتُهَاجِرُوْا فِيْهَا ؕ (پاره: 5، سورۂ نساء:97)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: آیا د الله زمکه پراخه نۀ وه چې تاسو پۀ هغې کښې هجرت کړے وے؟

علمائے کرام فرمائي: پۀ دې آیت کښې د اَرْضُ الله نه مُراد مدینه مُنَوَّره ده- (1) مطلب دا دے چې د هجرت نه پس چې کوم خلق پۀ مکه مکرمه کښې پاتې شوي وو، فرښتے د مرګ پۀ وخت هغوئي ته وائي: مدینه مُنَوَّره کومه چې د الله پاک خاص زمکه ده، آیا هغه پراخه نۀ وه---؟ بالکل وه نو تاسو هلته ولې لانړئ، تاسو هجرت ولې اونکړو---؟

د دلته نه د مدینے مُنَوَّرې دوه شانونه معلوم شول: (1): مدینه د الله پاک خاصُ الخاص زمکه ده (2): دویم دا چې مدینه مُنَوَّره ډیر د پراختیا والا ښار دے، د ټولې دُنیا غریبانو ته دلته پناه میلاؤیږي-

مدینے کے خطّے خُدا تجھ کو رکھے | غریبوں، فقیروں کے ٹھہرانے والے (2)

## (3): مدینه مُنَوَّره ښکلے ښار دے

پۀ یو ځائے کښې الله پاک فرمائي:

1...تفسیر مقاتل، پاره:5، سورۂ نساء، زیرِ آیت:97، جلد:1، صفحه:402۔

2...حدائقِ بخشش، صفحه:158۔

وَ الَّذِیۡنَ هَاجَرُوۡا فِی اللّٰهِ مِنۡۢ بَعۡدِ مَا ظُلِمُوۡا لَنُبَوِّئَنَّهُمۡ فِی الدُّنۡیَا حَسَنَةً ؕ

(پاره:14، سورۂ نحل:41)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او کومو خلقو چې د **اللّٰه** پۀ لاره کښې خپل کورونه پرېښودل پس د هغې نه چې پۀ هغوئي ظُلم اوکړے شو نو مونږ به ضرور هغوئي ته پۀ دُنیا کښې ښۀ ځائے ورکوو۔

**اللّٰه** پاک د صحابۂ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم سره وعده وفرمائیله چې هغوئي ته به پۀ دُنیا کښې د اوسیدو د پاره حَسَنَه (یعنې ښه ځائے) عطا کولے شي او بیا دا وعده څنګه پوره شوه---؟ ټولو ته معلومه ده چې **اللّٰه** پاک صحابۂ کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنۡهُم ته پۀ مدینه مُنَوَّره کښې اوسیدل نصیب کړل، معلومه شوه چې مدینه مُنَوَّره حَسَنَه یعنې ښکلې، غوره او بهترینه ده۔

## مدینه مُنَوَّره تازګي ورکوونکے ښار دے

معلومه شوه چې پۀ دې ځائے کښې رَبِّ کریم مدینے مُنَوَّرې ته د حَسَنَه خطاب ورکړے دے، د دې لفظ پۀ معنیٰ باندې ځان پوهه کړئ! اِمام راغب اَصفَهاني رَحۡمَةُ اللّٰهِ عَلَیۡه لیکلي دي:

كُلُّ مُبۡهِجٍ مَّرۡغُوۡبٍ فِیۡهِ

مفهوم: هر هغه څیز د کوم پۀ لیدو چې تازګي میلاؤ شي، پۀ کوم کښې چې رغبت حاصل شي، هغې ته حَسَن (که مؤنث وي نو حَسَنَه) وئیلے شي۔

◈ د کوم پۀ لیدو چې مخ تر او تازه شي، هغې ته حسینِ حِسِّي وئیلے شي ◈ د کوم پۀ

ليدو چې عقل تر او تازه شي، هغې ته **حسينِ عقلى** وئيلے شي ◈ د كوم پۀ ليدو چې رُوح تر او تازه شي، هغې ته **حسينِ هَوائى** (حسين قلبى يا رُوحى) وئيلے شي- [1] علمائے كرام فرمائي: پۀ آيت مبارك كښې چې مدينے مُنَوَّرې ته كومه حَسَنَه فرمائيلے شوې ده، د دې نه صرف ظاهري حُسن مُراد نۀ دے بلكې باطِني حُسن هم مُراد دے- [2] بيا به د آيت مبارك مطلب دا جوړيږي: كومو چې هجرت اوكړو، هغوئي ته به د كور كلي د پريښودو پۀ بدله كښې داسې ښكلے ښائسته ځائے او استوګنه عطا كولے شي، د كوم پۀ ليدو چې به د هغوئي مخونه هم تر او تازه كيږي، د هغوئي زړۀ او دماغ به هم تر او تازه كيږي-

## خوشحاله شئ! مدينه راغله---!!

صحابئ رسول حضرت اَنس بن مالِك رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمائي: د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارك وو، چې كله به يـې د سفر نه واپس مدينے مُنَوَّرې ته تشريف راوړلو نو د خپلو اوګو نه به يـې څادر كوزولو او فرمائيل به يـې: هٰذِهٖ اَرْوَاحٌ طَيِّبَةٌ يعني دا پاكې هواګانې دي-[3]

يعني نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به دا خوښول چې څادر دا هواګانې منع نۀ كړي، لهٰذا څادر به يـې كوز كړوچې د مدينے مُنَوَّرې هواګانې د وجود مبارك سره ولګي-

وہ جس کا شہر بھی ہے ایسا پیارا | جہاں کی رات دن سے سِوا ہے

---

[1]... مفردات الفاظ القرآن لاصفهانى، صفحه:133-

[2]... وفاء الوفاء بأخبار دار المصطفٰے، جز:1، جلد:1، صفحه:18-

3...سبل الهدى، جماع ابواب بعض فضائل المدينة، الباب الرابع، جلد:3، صفحه:297-

فضائے طیبہ پر قربان جاؤں | نسیمِ خُلد سی جس کی ہوا ہے[1]

حضرت اَنَس رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ نور فرمائي: سرکارِ عالي وقار، مکي مَدَني تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به چې د مدینے دَر او دیوالونه، کوڅې او ونې لیدلې نو خپله سورلۍ مبارکه به یـې د مدینے مُنَوَّرې د محبت په وجه تیزوله۔ [2]

بیا به هغوئي داسې دُعا فرمائیله:

اَللّٰھُمَّ اجْعَلْ لَنَا بِھَا قَرَارًا، وَرِزْقًا وَاسِعًا

ترجمه: اے **اللہ** پاکه! زمونږ د پاره په مدینه کښې ښه استوګنه او پراخه رزق مقرر کړې۔ [3]

تُو لکھ دے الٰہی! مقدّر میں میرے | مدینے میں مرنا مدینے میں جینا
نہیں روتے عُشّاق دنیا کی خاطر | رُلاتی ہے اُن کو تو یادِ مدینہ[4]

سُبْحٰنَ اللہ! **خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** تاسو د دې ځائے نه اندازه ولګوئ چې رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د مدینے مُنَوَّرې سره څومره محبت فرمائیلو، د خپل ښار سره عام طور زمونږه هم محبت وي، ډیر خلق دي کوم چې په سفر ستړي کیږي، کله چې بَل یو ښار ته لاړ شي نو یو څو ورځې پس یـې زړۀ تنګ شي، غواړي چې واپس خپل کور

---

[1]... سامانِ بخشش، صفحه: 201 و 212 ملتقطاً۔

[2]... سبل الهدی والرشاد، جماع ابواب بعض فضائل المدینة، الباب الرابع، جلد: 3، صفحه: 297۔

[3]... مکارم الاخلاق للخرائطی، باب ما یستحب للمسافر اذا نزل...الخ، جلد: 4، صفحه: 140، حدیث: 1001۔

[4]... وسائلِ بخشش، صفحه: 370 و 371 ملتقطاً۔

ته لاړ شي نو سکون به ميلاؤيږي خو د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مدينے مُنَوَّرې سره د محبت بل شان انداز وو، نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به د مدينے مُنَوَّرې هواګانې محسوسولې، هغوئي ته به يې د خپل وجود مبارک سره د لګيدو اجازت ورکولو، د مدينے مُنَوَّرې دَر او ديوالونه به يې چې يې ليدل نو پۀ مخ مبارک باندې به يې خوشحالي راخوريدله-

## د خوږ آقا صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ښکلے ارمان---!

مُوَطَّا اِمامِ مالِک د حديثِ پاک د ټولو نه لوئي وړومبے کتاب دے، عظيم عاشقِ رسول حضرت اِمامِ مالِک رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ پۀ دې کښې حديثونه راجمع کړي دي- پۀ دې مُبارک کتاب کښې يو روايت دے، يو ځل څوک وفات شو، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د هغوئي جنازه اوکړه، مړے هديرې ته يوړے شو، لا قبر تياريدو، چې رسولِ خُدا، احمدِ مجتبیٰ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم تشريف فرما شو، د قبر د تياريدو اِنتظار يې کولو- پۀ دې کښې يو صحابي رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ قبر ته دننه وکتل او وه يې وئيل: **بِئْسَ مَضْجَعُ الْمُؤْمِنِ** يعنې دا د مؤمِن ځومره بد ځائے دے-

محبوبِ ذِيشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم چې کله دا خبره واوريدله نو وه يې فرمائيل: تا بده خبره اوکړه- عرض يې اوکړو: يا رسولَ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ! زما دا مقصد نۀ وو- ما خو دا وئيل غوښتل چې که د دۀ د شهادت مرګ نصيب شوے وے نو ځومره به ښه وه- نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائيل: د شهادت خو هډو مثال نشته، البته! **مَاعَلَی الْاَرْضِ بُقْعَۃٌ هِیَ اَحَبُّ اِلَیَّ اَنْ یَکُوْنَ قَبْرِیْ بِهَا** دا سيمه (يعنې مدينه مُنَوَّره) د زمکې هُغه سيمه ده چې د

تولې دُنيا پهٔ نسبت زما خوښه ده چې زما قبر دلته جوړ کړے شي۔ (1)

شاہ! تم نے مدینہ اپنایا، واہ کیا بات ہے مدینے کی
اپنا روضہ اِسی میں بنوایا، واہ کیا بات ہے مدینے کی
ہر طرف رحمتوں کا ہے سایہ، واہ! کیا بات ہے مدینے کی
خوب رُتبہ عظیم ہے پایا، واہ! کیا بات ہے مدینے کی (2)

الله! الله! خوږو او محترمو اِسلامي ورونو! د خوږ آقا و مولا، مكي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې اِرشاد مبارک الفاظ يو ځل بيا واورئ! څومره ښكلي الفاظ دي، فرمائي: مَا عَلَى الْاَرْضِ بُقْعَةٌ هِيَ اَحَبُّ اِلَيَّ اَنْ يَكُوْنَ قَبْرِى بِهَا دا سيمه (يعنې مدينه مُنَوَّره) د زمكې هٰغه سيمه ده چې د تولې دُنيا پهٔ نسبت زما خوښه ده چې زما قبر دلته جوړ کړے شي۔ (3)

سُبْحٰنَ الله! دا د مدينے مُنَوَّرې سره د څومره ډير عظيم محبت اظهار دے، د رسولانو تاجدار، مكي مَدَني سركار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د خپلې روضې مباركې دلته د جوړولو د ارمان اِظهار فرمائي۔

## د خوږ آقا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دُعا

پهٔ روايت كښې دي، كله چې به رسولِ اكرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مكے مكرمې

---

1 ... موطا امام مالک، کتاب الجهاد، باب الشهداء فی سبیل الله، صفحه:236، حدیث:996۔
2 ... وسائلِ بخشش، صفحه:388 ملتقطاً۔
3 ... موطا امام مالک، کتاب الجهاد، باب الشهداء فی سبیل الله، صفحه:236، حدیث:996۔

ته تشریف ورلو، هلته به یې دُعا کوله: اَللّٰهُمَّ لَا تَجْعَلْ مَنَايَانَا بِهَا حَتّٰى تُخْرِجَنَا مِنْهَا یعنې اے **اللّٰه** پاکه---!! مونږ ته په مکه کښې مرګ مهٔ راکوې، د دې پورې چې مونږ د دې ځائے نه واپس (مدینے ته) ورسیږو۔ (1)

مَدینے میں آقا ہمیں موت آئے | بنے کاش! مَدفن ہمارا مَدینہ (2)

معلومه شوه چې په مدینه مُنَوَّره کښې مې مزار جوړ شي، د دې ارمان کول او دُعاګانې کول د محبوبِ ذِیشان، مکي مَدَني سلطان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم مبارکه طریقه ده۔

کاش چې زمونږ هم دا سعادت نصیب شي، مونږ هم دعاګانې کوو: یا **اللّٰه** پاکه! زمونږ په مدینه مُنَوَّره کښې د اِیمان او عافیت سره مړه کیدل، هلته د خوږ محبوب، خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په ښپو مبارکو کښې قبر جوړیدل نصیب کړې۔

مجھے مرنا ہے آقا گنبدِ خضرا کے سائے میں | وطن میں مَر گیا تو کیا کروں گا یارسولَ اللّٰہ!

## سیدھی سڑک یہ شہرِ شَفاعت نگر کی ہے

### [دا د شفاعت د ښار نیغه لار ده]

حدیثِ پاک واورئ! محبوبِ ذِیشان صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنِ اسْتَطَاعَ اَنْ يَّمُوْتَ

---

[1] ... مسند احمد، جلد:3، صفحه:88، صفحه:4882۔

[2] ... وسائلِ بخشش، صفحه:355۔

بِالْمَدِيْنَةِ فَلْيَفْعَلْ، فَاِنِّیْ اَشْفَعُ لِمَنْ مَاتَ بِهَا يعني د چا نه چې کيدے شي، هغه دې په مدينه کښې مړ شي، پس څوک چې په مدينه کښې مړ شي، زۀ به د هغۀ شفاعت کووم- (1)

طیبہ میں مَر کے ٹھنڈے چلے جاؤ آنکھیں بند | سیدھی سڑک یہ شہرِ شَفاعَت نگر کی ہے (2)

وضاحت: خومره به ښه وي چې په مدينه مُنَوَّره کښې مې مرګ نصيب شي او سترګې پټې کړم او په ارام او سکون سره لاړ شم--! ولې چې دا لاره نيغه د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شفاعت ته رسي-

علامه سَمهُودي رَحمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: صرف د مدينے مُنَوَّرې دا شان دے چې باقاعده په حديثِ پاک کښې دلته د مړ کيدو ترغيب ورکړے شوے دے، دا ترغيب د دُنيا د بَل هيڅ يو ښار په باره کښې نشته- (3)

نہ اور کوئی تمنّا نہ جُستجُو ٹھہرے | دل و نظر میں مدینے کی آرزو ٹھہرے

دُعا ہے ربّ سے مدینے کا ایک اک مَنظر | بہ وقتِ مَرگ بھی آنکھوں کے رُوبرُو ٹھہرے

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مدينے مُنَوَّرې په خاوره کښې شِفا ده

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د

---

[1]… مسند احمد، جلد:3، صفحه:257، حديث:5566۔

[2]… حدائقِ بخشش، صفحه:222۔

[3]… وفاء الوفا، الباب الثانی، الفصل الثالث...الخ، جز:1، جلد:1، صفحه:46۔

مدينے مُنَوَّرې سره ځومره محبت وو، د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم يو بل انداز واورئ! د مسلمانانو خوږه مور جانه سيده عائِشه صِدِّيقه طيبه طاهِره رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي: په صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم کښې چې به کله څوک بيماريدو، په چا باندې به چې پوښاقې دانې وغيره راختلې نو--!!

د صحابهٔ کرامو رَضِیَ اللهُ عَنْهُم خو عادت مبارک وو، هر څهٔ چې به کيدل، د مدد د پاره به دربارِ رسالت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته حاضريدل- وائي که نه :

کسی کا احسان کیوں اُٹھائیں، کسی کو حالات کیوں بتائیں
تمہی سے مانگیں گے، تم ہی دو گے، تمہارے دَر سے ہی لَو لگی ہے

خير! سيده عائِشه رَضِیَ اللهُ عَنْها فرمائي: که يو صحابي رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ته به څهٔ تکليف شو نو دربارِ رسالت ته به حاضر شو، اوس د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم انداز مبارک څهٔ وو؟ فرمائي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به په خپلو ګوتو مبارکو باندې لږې شان لُعَابِ پاک (يعنې خپلې لاړې مبارکې) ولګولې، په هغې کښې به يې د مدينے مُنَوَّرې خاوره مبارکه يو ځائے کړه او په زخم باندې به يې ولګوله او وئيل به يې:

بِسْمِ اللهِ تُرْبَةُ اَرْضِنَا بِرِيْقَةِ بَعْضِنَا لِيُشْفٰى سَقِيْمُنَا بِاِذْنِ رَبِّنَا

ترجمه: د **الله** پاک په نوم سره، زمونږ د ښار خاوره، زمونږه لاړې مبارکې به د **الله** پاک

پهٔ عطا سره زمونږ بیمارانو له شِفا ورکوي۔[1]

د قرآنِ کریم د مشهور مفسر، حکیم الاُمّت مفتي احمد یار خان نعیمي رَحۡمَۃُ اللہِ عَلَیۡہ د فرمان خُلاصه ده: وړومبے خو به رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مرض پهٔ ځائے باندې ګوته ایښودله، بیا به یې پهٔ ګوته خپلې لاړې مبارکې لګولې، بیا به یې خاوره لګوله او د دې خَټه به یې د مرض پهٔ ځائے لګوله او فرمائیل به یې: د اللّٰه پاک پهٔ حُکم سره زمونږه لاړې او د مدینے خاوره شِفا ده۔ [2]

سُبۡحٰنَ اللہ! خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! وګورئ چې د رسولِ اکرم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د مدینے مُنَوَّرې سره څومره محبت وو، د دې مبارکې خاورې سره د هغوئي څومره ژور محبت او تړون لرلو۔

د دې حدیث شریف نه دا هم معلومه شوه چې د مدینے مُنَوَّرې پهٔ خاوره کښې شِفا ده۔ د اللّٰه پاک حبیب، د طبیبانو طبیب صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم پهٔ حدیثِ پاک کښې فرمائیلي دي: غُبَارُ الۡمَدِیۡنَۃِ شِفَاءٌ د مدینے مُنَوَّرې دوړه د شِفا سبب دے۔ [3] ◈ پهٔ یو حدیثِ پاک کښې خو خوږ نبي، مکي مَدَني صَلَّی اللہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د قَسم سره فرمائیلي دي: وَالَّذِیۡ نَفۡسِیۡ بِیَدِہٖ پهٔ هغه ذات مې دې قَسم وي د چا پهٔ قبضهٔ قُدرت کښې چې زما ځان دے اِنَّ فِیۡ غُبَارِهَا شِفَاءً مِّنۡ کُلِّ دَآءٍ

1...ابن ماجه، کتاب الطب، باب ما عوذ به...الخ، صفحه:569، حدیث:3521 مفصلاً۔

2...مرآة المناجیح، جلد:2، صفحه:407 خلاصةً۔

3...جامع صغیر، صفحه:355، حدیث:5753۔

بے شکه د مدينے مُنَوَّرې پۀ دوره کښې د هرې بيمارۍ شِفا ده۔ [1]

◈ شيخ مَجدُ الدِّين فيروز آبادي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: زما د غُلام تول کال تبه وه، ما د شِفا خاوره راواخسته او پۀ اوبو کښې مې (لږه شان) حل کړه، اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! د هغې ورځې نه يې شِفا نصيب شوه۔ [2] ◈ شيخ عبد الحق مُحَدِّثِ دِهلوي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: زۀ پۀ مدينه مُنَوَّره کښې حاضر ووم، د څۀ مرض پۀ وجه زما ښپه وپړسېدله، طبيبانو هغه خطرناک مرض وګرځولو او علاج يې بند کړو، نو ما د مدينے مُنَوَّرې د خاکِ شِفا راواخسته، د هغې اِستعمالول مې شروع کړل نو اَلۡحَمۡدُلِلّٰه! پۀ لږو ورځو کښې ډېر پۀ اسانۍ سره د پړسوب نه نجات حاصل شو۔ [3]

سُبۡحٰنَ الله! اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُعَلَيۡهِوَاٰلِهٖوَسَلَّم عاشقانو! د مدينے مُنَوَّرې پۀ مبارکه خاوره کښې **الله** پاک دا اثر اېښودے دے چې د دې پۀ برکت سره د ظاهري وجود مرضونه هم ټيک کېږي او د ګناهونو د مرضونو نه هم شِفا ميلاؤېږي، آؤ! عقيده ټيک کېدل ضروري دي۔

نہ ہو آرام جس بیمار کو سارے زمانے سے | اُٹھا لے جائے تھوڑی خاک اُن کے آستانے سے [4]

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ليکلي

[1] ... الترغيب والترہيب، فی سکنی المدينه، صفحه:416، حديث:28۔

[2] ... جزب القلوب، صفحه:27۔

[3] ... عاشقانِ رسول کی 130 حکايات، صفحه:67۔

[4] ... ذوق نعت، صفحه:214۔

دي: کومې اوبه چې د يو روايت مطابق د حضرت اِسماعيل عَلَيْهِ السَّلَام د ښپو مبارکو نه جاري شوې، يعنې آبِ زَم زَم، چې هغه بيماران ښۀ کوي نو چې پۀ کومه خاوره باندې چې د ټولو نبيانو آقا، د دوارو جهانو د داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ښپې مبارکې ايښودې دي، هٰغه مبارکه خاوره به خاکِ شفا (د شِفا خاوره) ولې نۀ وي---!! (1)

جس خاک پہ رکھتے تھے قدم سیّدِ عالم | اُس خاک پہ قرباں دلِ شیدا ہے ہمارا

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د مدينے مُنَوَّرې د خاورې رانجه پورې کړئ---!!

**خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو!** د مدينے مُنَوَّرې د خاورې هم څومره ښکلے شان دے---!! که موقع ميلاؤ شي نو د مدينے مُنَوَّرې خاوره پۀ سترګو پورې کول پکار دي! که وي نو (ډيره نۀ ) بس لږه شان پۀ اوبو کښې اچول او څښل پکار دي، پۀ سر باندې اچول پکار دي، پۀ وجود باندې مږل پکار دي، اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! ډير برکتونه به مو نصيب شي-

اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د مدينے مُنَوَّرې د عاشق يعنې د اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه ښکلې ادا ده چې هغوئي د مدينے مُنَوَّرې مبارکه خاوره باقاعده د سلايۍ پۀ ذريعه پۀ سترګو پورې کوي-

---

1... رسائل نعیمیه، اسرار الاحکام، صفحه:306-

| | |
|---|---|
| لگاؤ تم آنکھوں میں خاکِ مدینہ | کوئی اس سے بہتر بھی سرمہ بھلا ہے |
| مریضو! اُٹھا کر کے خاکِ مدینہ | کو لے جاؤ! اس میں یقیناً شِفَا ہے |
| مدینے کی مٹی ذرا سِی اُٹھا کر | پیو گھول کر ہر مرض کی دوا ہے |
| عقیدت سے خاکِ مدینہ بدن پر | مَلو تم ہر اِک درد کی یہ دوا ہے |
| بدن پر ہے عطار کے خاکِ طیبہ | پرے ہٹ جہنّم ترا کام کیا ہے[1] |

## د مدينے مُنَوَّرې سره محبت کوئ---!!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! مدينه مُنَوَّره محبوب ښار دے، الله پاک دې زمونږ هم د دې مقدس او مبارک ښار سره ډېر محبت نصيب کړي- شيخِ طريقت مولانا اِلياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه فرمائي: د مدينے مُنَوَّرې د غم موندلو د پاره دې ◈ د سرکارِ عالي وقار، د مدينے د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم او د هغوئي سره د نسبت لرونکي هر خيز سره ړښتونے پوخ محبت اوکړے شي ◈ د هغوئي پهٔ مبارکو سُنَّتو باندې دې عمل اوکړے شي ◈ د دِين د بزرګانو (يعنې د الله پاک د نيکانو بندګانو) د حَرَمينِ طَيِّبَين د ادب او اِحترام او د تعظيم او د توقير واقعات دې ولوستلے شي-[(2)]

◈ دې د پاره د مکـتـبة الــمدينه کتاب عاشقانِ رَسُول کی 130 حکایات لوستل فائده مند دي- که الله پاک نصيب مو کړي نو د دې کتاب د لوستلو سره د مکے مکرمې، د مدينے مُنَوَّرې

[1]... وسائل بخشش، صفحه:465-

2...تبرکات کا ثبوت(مدنی مذاکرہ، قسط:36)، صفحه:29-

او د حج وغیره محبت پهٔ زړهٔ کښې پیدا کیدے شي ◈ دغه شان دې د اعلیٰ حضرت اِمام احمد رضا خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د نعتونو دِیوان **حدائقِ بخشش** ولوستلے شي، پهٔ اُردو بنهٔ پوهیدونکے که چرې **حدائقِ بخشش** پهٔ پوهه سره ډیر ډیر لولي نو هغه به ډیر لوئي عاشقِ رسول جوړ شي ◈ رښتیا خبره دا ده چې د **عشقِ رَسُول** پهٔ حاصلولو کښې ماحول او صحبت ډیر پکار راځي- د صحبت پهٔ ذریعه جذبه زیاتیږي- اوس لکه چې څنګه څوک د حج یا د مدینے مُنَوَّرې د حاضرۍ د پاره لاړو او پهٔ دې سفر کښې یې **د مدینے مُنَوَّرې د یو عاشق** صحبت نصیب نهٔ شو نو د هغهٔ به ذوق نهٔ نصیب کیږي ځکه د **حَرَمینِ طَیِّبَین** سفر د ذوق لرونکي او عِلم لرونکي (یو عاشقِ رسول مفتي صاحب) سره کول پکار دي ◈ پهٔ خپل ملک کښې هم د عاشقانِ رسول پهٔ صحبت کښې زیات وخت تیرول پکار دي ◈ **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د دعوتِ اِسلامي د سُنَّتو پهٔ ډکو اِجتماعاتو او پهٔ مَدَني مذاکرو کښې د شرکت سره د مدینے مُنَوَّرې د محبت کُټې میلاؤیږي-

کاش چې زمونږ د ټولو ◈ د مدینے مُنَوَّرې عشق ◈ د مدینے مُنَوَّرې غم ◈ د مدینے مُنَوَّرې درد نصیب شي، زړهٔ مو د مدینے مُنَوَّرې پهٔ یادونو کښې ورک وي، پهٔ شونډو باندې مو هر وخت بس مدینه، مدینه، مدینه جاري وي-

اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د مفتي نقي علي خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ ذِکرِ خیر

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** د اعلیٰ حضرت رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ والِد محترم مولانا مفتي نقي علي خان رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ هم ډیر لوئي عاشقِ رسول وو، **اَلْحَمْدُلِلّٰه!** د مدینے مُنَوَّرې عاشق هم وو، د ذو

القعده شريف پهٔ 29 يا 30 تاريخ د هغوئي عرس وي، كوشش اوكړئ چې پهٔ خپلو ◈ كورونو كښې ◈ پهٔ دُكانونو كښې ◈ دفترونو كښې ◈ د هغوئي د ايصالِ ثواب بندوبست اوكړئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د كامِل ولي فيضان به مو نصيب شي- راځئ چې د هغوئي د مدينے مُنَوَّرې سره د عشق ذِكر واورو:

## د عاشقِ رسول د مدينے مُنَوَّرې سفر (حكايت)

د كال 1295 هجرى خبره ده، د شوّال مياشت وه، د اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه والِد صاحب مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډير سخت ناروغه شو، د وجود پهٔ ظاهري طاقت كښې يې ډيره كمزوري راغله، پهٔ دې حالت كښې يوه ورځ مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف فرما وو، ظاهري سترګې يې پټې وې خو بخت يې بيدار وو، د زړهٔ سترګې يې غړيدلې وې، مكي مَدَني آقا، وراني ودانوونكي آقا، د دواړو جهانو داتا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم كرم وفرمائيلو، د خپل رښتوني عاشق پهٔ خوب كښې يې تشريف راوړلو-

سَرِ بالیں، انہیں رَحمت کی ادا لائی ہے | حال بگڑا ہے تو بیمار کی بَن آئی ہے

سركارِ نامدار، مكي مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم خپل رښتوني عاشق ته حُكم اوكړو چې مدينے مُنَوَّرې ته راشه--! بس بيا څهٔ وو، د مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه سترګې وغړيدلې، اګر چې طبيعت يې خراب وو، پهٔ ظاهري جسماني طاقت كښې هم ډير كمزورے وو خو مَدَني آقا، محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم حُكم فرمائيلے وو، نو مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فوراً د حج او د مدينے مُنَوَّرې د حاضرى پخه اِراده اوكړه، د هغوئي رَحْمَةُ

اللهِ عَلَيْه دوستانو او ملګرو، کور والؤ وغیره ډیر عرض اوکړو چې عالي جاه--!! طبیعت مو ټیک نۀ دے، ګرځیدل درته ګران دي، که بَل کال هم تشریف یوسیٔ نو د سرکارِ عالي وقار، مَدَني تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حُڪم باندې به عمل وشي خو د مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه کمال عشق ته وګورئ چې طبیعت یـې خراب دے، پۀ جسماني توګه ډیر کمزورے دے او اوس خو پۀ هوائي جاز کښې سفر کیږي، د هندوستان نه پۀ 6 ګینټو کښې مدینے مُنَوَّرې ته رسیدے شي، هُغه وخت به پۀ سمندري جاز کښې، پۀ سمندر کښې سفر کیدلو، مدینے مُنَوَّرې ته پۀ رسیدو کښې به ډیرې ورځې تیریدلې، د دې ټولو حالاتو باوجود رښتوني عاشقِ رسول، مولانا نقي علي خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دوستانو او خپلوانو پۀ عرض باندې پۀ عشقِ رسول کښې بے خوده شو او وه یـې فرمائیل چې: د مدینے مُنَوَّرې پۀ اِراده باندې چې قدم د دروازې نه بهر کیږدم، بیا که رُوح هم په دغه وخت پرواز کوي نو او دې کړي۔ [1]

شوق روکے نہ رُکے پاؤں اُٹھائے نہ اُٹھے | کیسی مشکل میں ہیں اللہ تمنّائی دوست[2]

**وضاحت:** یا الله! د خوږ محبوب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خِدمت کښې د حاضرۍ ارمان دے، شوق داسې دے چې زړۀ نۀ منع کیږي، حال دا دے چې قدم رانه پورته کیږي نۀ، ګرځیدل راته ګران دي، اِلٰهی! شومره سخته ده، زما مدد اوکړې۔

---

[1] ... فضائلِ دُعا، صفحه:40 بتصرف۔

[2] ... حدائقِ بخشش، صفحه:63۔

مولانا نقي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د خپل شهزاده اعلیٰ حضرت، اِمام احمد رضا خان رَحۡمَةُاللهِ عَلَيۡه او د کور د يو څو نورو کسانو سره د حج د پاره روان شو، اعلیٰ حضرت رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه فرمائي: د مکے مکرمې سرکار، د مدينے مُنَوَّرې سردار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې تشريف راوړلو او خپل رښتوني عاشق، مولانا نقي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه ته يې پۀ يو لوښي کښې دوائي ورعطا کړه، د دې دوايئ څښلو پۀ برکت د مرض سخت والے کم شو او مولانا نقي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د حج او د زيارت ټول کارونه د روغو خلقو پۀ شان ادا کړل، بيا مدينے مُنَوَّرې ته هم پۀ ادب سره، ډيره ښکلې حاضري وشوه- (1)

| | |
|---|---|
| ميٹھا مدينه دُور ہے، جانا ضرور ہے | جانا ہميں ضرور ہے، جانا ضرور ہے |
| ہوتا ہے سخت امتحاں، الفت کی راہ ميں | آتا مگر سُرور ہے، جانا ضرور ہے |
| عشاق کو تو ملتی ہے غم ميں بھی راحت اور | آتا بڑا سُرور ہے، جانا ضرور ہے |
| سرکار کا مدينہ يقيناً بلاشُبہ | قلب و نظر کا نُور ہے، جانا ضرور ہے (2) |

صَلُّوا عَلَى الۡحَبِيۡب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** دا وو د مولانا نقي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه د عشقِ رسول حالت---! چې هغوئي ته سرکارِ عالي وقار، د مدينے مُنَوَّرې تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ خوب کښې راغلو او حُکم يې اوکړو نو مولانا نقي علي خان رَحۡمَةُاللهِعَلَيۡه دومره پۀ سختئ سره

---

1 ...فضائلِ دُعا، صفحه:41 بتصرف۔

2 ...وسائلِ بخشش، صفحه:486، 487 ملتقطاً۔

عمل اوکړو چې د ځان پروا يې هم اونکړه بلکې وه يې فرمائيل: چې د مدينے مُنَوَّرې پۀ اِراده قدم د دروازې نه بهر کيږدم بيا دې رُوح پرواز اوکړي- يعني د خپل آقا او مولیٰ، محبوبِ خُدا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ حُکم باندې د عمل کولو د پاره چې څۀ زما په اِختيار کښې دي هغه به زۀ ضرور کووم، بيا د الله پاک رحمت او د مَدَني سرکار، د انبياؤ د تاجدار صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کرم بے شمار دے، که الله پاک او د هغۀ خوږ حبيب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم وغواړي نو مدينے مُنَوَّرې ته به مې ورسوي، ګنې زما د طرف نه خو به پۀ حُکم باندې عمل وشي-

آنے دو یا ڈبو دو، اب تو تمہاری جانِب | کشتی تمہیں پہ چھوڑی، لنگر اُٹھا دیئے ہیں[1]

الله پاک دې زمونږ هم ◈ د مدينے مُنَوَّرې عشق ◈ د مدينے مُنَوَّرې ياد ◈ د مدينے مُنَوَّرې غم ◈ د مدينے مُنَوَّرې ذِکر ◈ د مدينے مُنَوَّرې فِکر ◈ او بيا بيا، پۀ زړګونو کرته پۀ ادب سره د مدينے مُنَوَّرې د حاضرئ توفيق نصيب کړي-

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

مدینہ، مدینہ، ہمارا مدینہ | ہمیں جان و دِل سے ہے پیارا مدینہ
سہانا سہانا دِل آرا مدینہ | دِوانوں کی آنکھوں کا تارا مدینہ
یہ ہر عاشقِ مصطفےٰ کہہ رہا ہے | ہمیں تو ہے جنّت سے پیارا مدینہ
یہ رنگیں فضائیں، یہ مہکی ہوائیں | مُعَطَّر، مُعَنْبَر ہے سارا مدینہ
مدینے کے جلووں کے قربان جاؤں | خدا نے ہے کیسا سنوارا مدینہ

[1]… حدائقِ بخشش، صفحہ:102۔

خُدا گر قیامت میں فرمائے مانگو | پُکاریں گے دیوانے پیارا مدینہ[1]

اٰمِیۡن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د قُرباني څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ!

خوږو او محترمو اِسلامي ورونړو! اَلْحَمْدُلِلّٰه! دعوتِ اِسلامي د اِسلام او د مسلمانانو په خدمت کښې مصروف دے، په دې نیک کارونو کښې تاسو هم خپله حصه شامله کړئ! لوئي اختر رانزدې دے، عاشقانِ رسول به د قُرباني سعادت حاصلوي- خواست دے چې د خپلو خپلو څارو څرمنې دعوتِ اِسلامي له ورکړئ! ستاسو د ورکړے شوي رقم یا څرمن په ذریعه به په ټوله دُنیا کښې دِیني، اِصلاحي، رُوحاني او د خیر ښیګړې کارونه کولے شي، اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! دا به ستاسو د پاره صدقهٔ جاریه وي- د دې سره سره په خپله کوڅه او محله کښې، خپلو خپلوانو ته فون وغیره اوکړئ او هغوئي له هم د دې ترغیب ورکړئ! په خپل کوشش باندې څرمنې هم راجمع کړئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِیْم! د دې به هم برکتونه در نصیب کیږي، په حدیثِ پاک کښې دي: چا چې د څهٔ خیر طرف ته رهنمائي اوکړه هغهٔ ته به په دې باندې د عمل کوونکي همره ثواب میلاویږي-[2]

اَلْحَمْدُلِلّٰه! د قُرباني په ورځو کښې ډیر عاشقانِ رسول د دعوتِ اِسلامي د پاره د څرمنو راټولولو بندوبست کوي- د دغه اِسلامي ورونړو د پاره یو څو اِحتیاطونه وړاندې کولے شي:

---

[1] ... وسائلِ بخشش، صفحه:355۔

[2] ... ترمذی، ابواب العلم، باب ماجاء الدال...الخ، صفحه:628، حدیث:2671۔

◈ د **الله** پاک د رضا د پاره خرمني راټولوئ ◈ پۀ دغه وخت د نـمونځونو پابندي کوئ ◈ د ګنده جامو سره جومات ته د تللو نه ډډه اوکړئ، دې د پاره صفا سوتره جوړه د ځان سره ساتئ ◈ جومات، مدرسه وغيره پۀ وينه د ګنده کولو نه بچ کړئ ◈ چا چې بلې يوې ادارې ته د خرمن د ورکولو وعده کړې وي نو د هغوئي د وعده خلافۍ ذِهن مۀ جوړوئ ◈ پۀ چا غصه مۀ کوئ ◈ د خرمن ورکوونکي پۀ ښه طريقه مننه اوکړئ ◈ پۀ داسې ځائے کښې د خرمنو د راجمع کولو سټال مۀ لګوئ چې خلقو ته پۀ تللو راتللو کښې تکليف وي۔

عطاؔر سے محبوب کی سُنَّت کی لے خدمت | ڈنکا یہ ترے دین کا دُنیا میں بجادے[1]

**الله** پاک دې مونږ ټولو ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب!　　صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## پۀ 12 دِيني کارونو کښې يو دِيني کار: نيک اَعمَال

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! پۀ زړۀ کښې د مدينے مُنَوَّرې د عشق د زياتولو، د مدينے مُنَوَّرې د ذِکر کولو، او د نيکو والا ژوند تيرولو د پاره د عاشقانِ رسول د ديني تحريک دعوتِ اِسلامي دِيني ماحول ته راشئ او د ذيلي حلقے پۀ پۀ 12 ديني کارونو کښې

[1]... وسائلِ بخشش، صفحه:112۔

هم ښه ډيره برخه واخلئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! د دنيا او اخرت بے شميره خيرونه به درنصيب شي- پهٔ 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار روزانه د نيک اعمال رسالې نه جائزه اخستل هم دي-

◈ سرورِ عالَم، نُورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: عقل مند هغه دے چې خپله محاسبه او د مرګ نه وروستو ژوند د پاره عمل اوکړي (1) ◈ د ځان د اصلاح او د شيطان نه د بچ کيدو بهترينه طريقه هم دا ده چې مونږ د خپلو عادتونو، خپل کردار او د خپلو اعمالو جائزه اخلو- پهٔ دې وخت کښې اميرِ اهلِسُنَّت مولانا محمد الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د خپل ځان د جائزې اخستو اسانه طريقه ښودلې ده: **رساله نيک اعمال** ◈ لوئي اسلامي ورونړو د پاره پهٔ **نيک اعمال رساله** کښې 72 سوالونه او جوابونه ليکلے شوي دي ◈ د هر سوال نه لاندې 30 خانې دي ◈ هره ورځ د سوال لوستلو سره خپله جائزه اخستل دي او خانے ډکول دي ◈ د ښه اِسلامي ژوند تيرولو بهترينه نسخه ده ◈ د دې پهٔ ذريعه پته نه لګي چې د څومره خلقو اصلاح شوې ده-

**تاسو هم دا رساله واخلئ!** د نيک اعمال مطابق هره ورځ خپله جائزه اخلئ! اِنْ شَآءَاللهُ الْكَرِيم! ډيره فائده به در نصيب شي ◈ اخلاق به مو ښه کيږي ◈ کردار به مو ښه شي ◈ عادتونه به مو ښه شي ◈ پهٔ نيکو باندې به مو استقامت نصيب شي ◈ د ګناهونو نه به مو نفرت شي ◈ زړهٔ به مو روښانه شي ◈ د الله پاک محبت به مو نصيب شي ◈ عشق رسول به زيات شي ◈ روحانيت به ميلاو شي او ◈ داخرت فکر به مو نصيب شي-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

[1]... ترمذی، ابواب صفة القيامة، صفحه:583، حديث:2459 ـ

## د نيک اعمال رسالې برکت

د نيو کراچۍ د يو اِسلامي ورور د بيان خلاصه ده چې زمونږ د علاقې د جومات امام صاحب ځوک چې د دعوتِ اِسلامي سره تعلق لري، هغه انفرادي کوشش اوکړو او زما مشر ورور له يې نيک اعمال رساله په تحفه کښې ورکړه- هغهٔ کور ته راوړه او وه يې لوستله نو حيران شو چې په دومره مختصره رساله کښې يو مسلمان ته د اِسلامي ژوند تيرولو څومره بهترينه فارمولا ورکړے شوې ده! د نيک اعمال رسالې ميلاويدو په برکت اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د هغهٔ د نـمونځ جذبه نصيب شوه او د جَمعې سره د نـمونځ کولو د پاره جومات ته حاضر شو او اوس پينځه وخته نـمونځ ګزاره جوړ شوے دے، زيره مبارکه يـې هم پريښودې ده او په پابندۍ سره د نيک اعمال رسالې نه جائزه اخلي-

نيک اعمال کے عامل پہ ہر دم ہر گھڑی | یاالٰہی!خوب برسار حمتوں کی تُوجھڑی

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللّٰہُ عَلٰی مُحَمَّد

## مَدَني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي ***I.T*** ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې مَدَني قاعِده ***(Madani Qaida)*** دے- په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو ***(Audio)*** شامله کړے شوې ده يعنې په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک ***(Click)*** کوئ، په آډيو ***(Audio)*** کښې به د هغې

تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن پهٔ مرستې سره پهٔ اسانۍ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (*Practice*) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي- دا ايپلي کيشن پهٔ خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، بخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ-

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## يو څو ضروري اِعلانات

◈ د هر خالي پهٔ ورځ اميرِ اهلِسُنَّت دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه پهٔ **مَدَني چينل لائيو هفته واره مَدَني مذاکره** کوي، د راتلونکې هفتې پهٔ ورځ به هم پهٔ مَدَني چينل د شپې نهه نيمې [9: 30] بجې اِنْ شَآءَ اللهُ الْكَرِيم! هفته واره مَدَني مذاکره کيږي، پهٔ کومه کښې چې به شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت مولانا الياس عطّار قادري دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د سوالونو جوابونه هم ورکوي- ټول ذِمه داران او عاشقانِ رسول دې پهٔ دې مَدَني مذاکره کښې بخپله هم شرکت وکړي او نورو له دې هم دعوت ورکړي ◈ شيخِ طريقت، اميرِ اهلِسُنَّت هره هفته د يوې ديني رسالې لوستلو ترغيب ورکوي، پهٔ راتلونکې هفته واره مَدَني مذاکره کښې به د رسالې **عقلمند پلار** اعلان کولے شي- دا رساله بخپله هم ولولئ! نورو له هم د دې ترغيب ورکړئ او څوک چې سوشل ميډيا مثلاً واټس ايپ وغيره استعمالوي هغوئي دې د **الله** پاک د رضا او د ثواب د پاره دا رساله د نورو سره هم شيئر کړي! ◈ اميرِ اهلسنّت مولانا محمد الياس عطّار قادری دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه يوه رساله ليکلې ده "**ابلق گھوڑے سوار**"- په دې رساله کښې د قربانۍ مسائل په آسان او عام پوهيدونکي انداز کښې بيان شوي دي- دا رساله د

مکتبةُالمدینه د هرې څانګې نه په **30 روپۍ** هدیه طلب کړئ، پخپله یې هُم ولولئ او نورو ته هم ترغیب ورکړئ۔

◈ د شرعي تقاضو مطابق د قُربانۍ کولو د پاره د دعوتِ اِسلامي د لاندې په کیدونکې اِجتماعي قُربانۍ کښې خپله حصه شامله کړئ! دې د پاره د خپل ځائے د دعوتِ اِسلامي د ذمه دارانو سره رابطه اوکړئ۔ **الله** پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي۔

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صلَّی اللہُ علیہِ واٰلہٖ وسلَّم

◈ د قربانۍ د تفصیلي احکامو زده کولو د پاره د مکتبةُالمدینه د کتاب "**بهارِ شریعت**" جلد: 3، حصه: 15 مطالعه کړئ او نورو ته هم د دې ترغیب ورکړئ۔

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیب! صَلَّی اللہُ عَلٰی مُحَمَّد

**خوږو او محترمو اسلامي ورونړو!** د بیان په اخره کښې د سُنّتو فضیلت او د ژوند د یو څو ادابو بیانولو سَعَادت حاصلووم۔ تاجدارِ رسالت، شهنشاهِ نبوت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائیلي دي: مَنْ اَحَبَّ سُنَّتِی فَقَدْ اَحَبَّنِی وَمَنْ اَحَبَّنِی کَانَ مَعِیَ فِی الْجَنَّۃِ چا چې زما د سُنّتو سره محبّت اوکړو هغه زما سره محبّت اوکړو او چا چې زما سره محبّت اوکړو هغه به په جَنَّت کښې زما سره وي۔ (1)

سینہ تیری سُنّت کا مدینہ بنے آقا! | جَنَّت میں پڑوسی مجھے تم اپنا بنانا

[1]... تاریخ دمشق، جلد:9، صفحه:343۔

# د وعدې پابندي سُنَّت ده

**د اخري نبي، رسولِ هاشمي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **2 فرامين مبارک دي: (1):** څوک چې وعده نۀ پوره کوي، د هغۀ هيڅ ايمان نشته۔[1] **(2):** کوم مسلمان چې د خپل ورور سره وعده خلافي اوکړي پۀ هغۀ باندې د **الله** پاک او د فرښتو او د ټولو انسانانو لعنت دے۔[2]

**اے د خوږ نبي** صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** وعده پوره کول د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم بلکې د انبيائے کرامو عَلَيۡهِمُ السَّلَام سُنَّت دي ◈ زمونږه خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به پۀ خپله وعده کلک ولاړ وو او ◈ وعده ماتول به يې نۀ خوښول ◈ د نبوت د اعلان نه مخکښې يو ځل يو کَس نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته عرض اوکړو چې: تاسو ودرېږئ! زۀ دا دے اوس راځم، هٰغه کَس لاړو خو واپس راتلل ترينه هير شول، 3 ورځې پس هغۀ ته بيا ورياد شول، چې کله هغه هٰغه ځائے ته راورسيدو نو حيران پاتې شو چې خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د 3 ورځو تيريدو باوجود هم پۀ ەغه ځائے کښې تشريف فرما وو او **مَاشَآءَالله!** شفقت او رَحمت او ښه اخلاقو ته يې وګورئ! چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هٰغه کَس اونه رټلو او نۀ پۀ جلال کښې راغلو، بس دومره يې وفرمائيل: اے سړيه! تا زۀ پۀ مشقت کښې واچولم۔[3] **الله** پاک دې مونږ هم د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پۀ سُنَّت باندې عمل کوونکي او وعده پوره کوونکي جوړ کړي۔

اٰمِيۡن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

---

[1]... مصنف اِبْنِ اَبِي شيبه، کتاب: الايمان، جلد: 7 صفحه: 223۔

[2]... بخاری، کتاب: جِزْيه، صفحه: 815، حديث: 3179۔

[3]... اَبُو داؤد، کتاب ادب، باب في العدة، صفحه: 781، حديث: 4996۔

د مختلفو سنتو زده کولو د پاره د مکـتبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا ابو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتيں اور آداب** واخلئ او وه يـې لولئ! د سنتو زده کولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي پهٔ مَدَني قافلو کښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے۔

| | |
|---|---|
| قرض ہو گا ادا آکے مانگو دعا | پاؤ گے برکتیں قافلے میں چلو |
| قرض کا بار ہو، بے کسی یار ہو | چاہو گر راحتیں قافلے میں چلو |

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفيق راعطا کړي۔

اٰمِيْن بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمَ

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

## د دعوتِ اسلامی هفته واره د سُنَّتو ډکه اجتماع کښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاک او (2) دُعاګانې

﴾1﴿ د شَبِ جُمعې [يعنې د جُمعې د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ

الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوک هره شَبِ جُمعه (يعنې د جُمُعې او زيارت پهٔ مينځنۍ شپه

باندې) دا دُرُود شريف پۀ پابندۍ سره کم ازکم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ پۀ وخت کښې د مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم دِيدار کوي او قَبر کښې د داخليدو وخت کښې هُم، تر دې چې مَدَني آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم به هغه قَبر ته د خپل رَحمت نه ډکو لاسو باندې کوزوي. (1) راځئ چې مونږ هم پۀ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَمَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّعَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

د حضرتِ سَيِّدُنا انَس رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ نه روايت دے چې مَدَني تاجدار صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّمفرمائيلي دي: څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي که ولاړ وي نو د کښيناستلو نه مخکښې او که ناست وي نو د ودريدلو نه مخکښې به د هغۀ ګُناهونه مُعاف کړے شي. (2) راځئ چې مونږ هم پۀ شريکه دا دُرُود ووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازې:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوک چې دا دُرُودِ پاک لوَلي پۀ هغۀ به د رَحمت اويا دروازې برسيره کړے شي. (3) راځئ چې دا دُرُود هُم پۀ شريکه ووائيو.

---

1... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 151، خلاصةً۔

2... اَفْضَلُ الصَّلاة، صفحه: 65۔

3... قَوْلُ البَدِيْع، باب ثانی، صفحه: 277۔

## ﴿4﴾ د شپږ لاکه دُرُودشریف ثواب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی سَیِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰہِ صَلَاۃً دَآئِمَۃً بِدَوَامِ مُلْکِ اللّٰہِ

حضرت اَحمَد صَاوِی رَحۡمَۃُ اللّٰہِ عَلَیۡہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل کوي: د دې دُرُود شریف یو ځل لوستلو باندې د شپږو (6) لاکو دُرُود شریف لوستلو ثواب حاصِلیږي. [1] راځئ چې پۀ شریکه یې ووائیو.

## ﴿5﴾ د خوږ مُصطَفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم قُرب

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

یوه ورځ یو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّیقِ اکبر رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ تر مینځه کښینولو، پۀ دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡھُم حیران شو چې دا څوک اوچتې مرتبے والا دے! چې کله هغه لاړو نو حضور صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: دے چې کله پۀ ما باندې دُرُودِ پاک لوَلي نو داسې یې لوَلي. [2] راځئ چې مونږ یې هُم پۀ شریکه ووائیو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْہُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ یَوْمَ الْقِیَامَۃِ

د شفِیعِ اُمَّت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوک چې داسې دُرود شریف ولوَلي، د

---

1 ...اَفْضَلُ الصلاۃ، صفحه:149۔

2 ...قَوْلُ البَدِیۡع، بابِ اَوَّل، صفحه:125۔

هغهٔ د پاره زما شفاعت واجب شي.[1] راځئ چې دا دُرُود هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿1﴾ د یو زر [1000] ورځو نیکئ:

جَزَى اللّٰهُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

د حضرتِ سَیِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُما نه رِوایت دے چې مَدَني آقاصَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے د یو زر [1000] ورځو پورې نیکئ لیکي.[2] راځئ چې مونږ یے هُم پهٔ شریکه ووائیو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر یې چې حاصل کړو

د خوږ آقا و مولا، مکي مَدَني مصطفٰے صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: چا چې دا دُعا درې ځله ولوستله نو لکه هغهٔ چې شبِ قدر حاصل کړو-[3] راځئ چې مونږ هُم دا دُعا پهٔ شریکه ووائیو-

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ، سُبْحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبْعِ وَرَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْم

(د حِلم او کرم کوونکي **اللّٰه** پاک نه علاوه هیڅوک د عبادت لائق نشته، **اللّٰه** پاک دے، د اووهٔ اسمانونو او د عظمت والا عرش رَبّ)

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

---

1...الترغیب والترہیب، کِتَابُ الذِّکر والدُّعَا، جلد:2، صفحه:329، حدیث:30۔

2...مَجۡمَعُ الزَّوائِد، کِتَابُ الۡاَدۡعِیَه، جلد:10، صفحه:254، حدیث:17305۔

3...تاریخ ابنِ عساکر، 155/19، حدیث:4415